# د زړه د زنګ لرې کولو (4) طریقې

26-January-2023



هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په 26 جنورۍ کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د زړه د زنګ لرې کولو (4) طريقې

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د اللّٰه پاک د نزدې والي حق دار څوک؟
- د زړه د سختۍ یو څو وجې
- په سرونو ئې تور کارغان ناست وو
- غلام بادشاه جوړوونکے عمل
- د اللّٰه پاک نزدې والے ورکوونکې نیکي

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِىَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د الله پاک خوږ حبيب، د زړونو طبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: كوم بنده چې په مينه او شوق 3 ځله په ورځ كښې او 3 ځله په شپه كښې په ما باندې درودِ پاک اولولي، په الله پاک باندې حق دے چې د هغه د هغه ورځې او د هغې شپې ګناهونه معاف كړي-[1]

اے عاشقانِ رَسُول! كه چرې مونږه لږه شان توجو اوكړو نو پته به اولګي چې د ګناهونو د بخښلو دا څومره ښكلې او آسانه نُسخه ده، مثلاً د سحر لمونځ د جَمعې سره ادا كړئ، سر ښكته كړئ، سترګې پټې كړئ او د شين شين ګنبد خيال راولئ او 3 ځله درودِ پاک اولولئ، دغه شان د شپې د اوده كيدو په وخت كه په بستره ولې نه وي په هغې باندې قبلې طرف ته مخ كړئ، سر ښكته كړئ، سترګې پټې كړئ او د ښكلي ښكلي ګنبد خضرا خيال راولئ او 3 ځله درودِ پاک اولولئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دغې ورځې او د دغې شپې ګناهونه به معاف شي، ياد ساتئ! غټ ګناهونه په رښتينې توبې سره معاف كيږي، دغه

[1]... معجم كبير، جلد:8، صفحه:69، حديث:15316-

شان قضا لمونځونه، قضا روژې، د بنده ګانو مالي، جسماني حقونه که وي نو د دې ورکول هم لازمي دي-

وہ تو نہایت سَستا سودا، بیچ رہے ہیں جنت کا
ہم مُفلس کیا مَول چکائیں، اپنا ہاتھ ہی خالی ہے[1]

**وضاحت:** الله پاک او رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جنّت ډیره ارزانه سودا کوي، افسوس---!! په بدل کښې د ورکولو د پاره زمونږ سره څه عمل نشته-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نیت بنده جنّت ته بوځي-[2]

**اے عاشقانِ رَسُول!** د ښه ښه نیتونو سره د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ! د بیان اوریدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِیَّتونه اوکړو: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به بااَدبه کښینم ❀ ښه په توجو به بیان اورم ❀ څه چې واورم، د هغې به د یادولو، ځپله د عمل کولو او نورو ته د رسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...حدائقِ بخشش، صفحہ:186-
2...مسند فِردَوس، جلد:4، صفحہ:305، حدیث:6895۔

## د رَجبُ المُرَجَّب یو څو فضیلتونه

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د رَجبُ المُرَجَّب ښکلې مياشت تشريف راوړے دے- دا ډيره د برکت والا مياشت ده- د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: رَجَبٌ شَهْرُاللّٰهِ تَعَالٰى وَ شَعْبَانُ شَهْرِىْ وَ رَمَضَانُ شَهْرُ اُمَّتِىْ- يعنې رجب د الله پاک مياشت ده، شعبان زما مياشت ده او رمضان زما د اُمَّت مياشت ده- (1) په روايتونو کښې دي، کله چې به د رَجَبُ المُرَجَّب مياشت راتلله نو خوږ آقا، د مدينې والا مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به دا دُعا فرمائيله (2) (راځئ! چې مونږه هم د سُنَّت د ادا کولو په نيت سره دا دُعا اولولو):

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْ رَجَبٍ وَّ شَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ

يعنې اے الله پاکه! ته زمونږ د پاره په رَجَب او شعبان کښې بَرَکتونه عطا کړې او مونږه رمضان ته اورسوې- (3)

الله پاک دې مونږ له د دې محترمې مياشتې د ادب او د احترام کولو توفيق راکړي- چا عربي شاعر وئيلي دي:

بَيِّضْ صَحِيْفَتَكَ السَّوْدَاءَ فِيْ رَجَبٍ | بِصَالِحِ الْعَمَلِ الْمُنْجِيْ مِنَ اللَّهَبِ (4)

**وضاحت:** په رَجَبُ المُرَجَّب کښې خپله توره توره، د ګناهونو نه ډکه عمل نامه اوپرقوئ [ښکلې/صفا] کړئ--!! څنګه؟ د نيک عملونو کولو سره- کوم نيک عملونه؟ هغه کوم چې

---

1... مسندِ فردوس، جلد:2، صفحه:275، حديث:3276۔
2... موسوعۃ ابن ابی دنیا، کتاب فضائل رمضان، جلد:1، صفحه:361، حديث:1۔
3... معجم اوسط، جلد:3، صفحه:85، حديث:3939
4... تاريخ مدينه دمشق، جلد:54، صفحه:432۔

د دوزخ د لمبه شوي اور نه خلاصے ورکوي۔

عِبَادت میں، ریاضت میں، تلاوت میں لگادے دِل
رَجَب کا واسطہ دیتاہوں فرمادے کرم مولیٰ![1]

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## باطني طهارت چرته دے؟

حضرت ابو بکر شِبلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مشهور کامِل ولي دے، هغوئي اودس کولو، ناڅاپه غيبي آواز راغلے: اے شِبلي! ظاهري پاکي خو دې حاصِله کړه، باطني طهارت (يعنې د زړه پاکي) چرته ده؟ دې غيبي آواز د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په زړه باندې ډير غټ اثر اوکړو، هغوئي سمدستي کور ته راغلل او خپل ټول جائيداد، مال او دولت ئې د الله پاک په لار کښې اولګولو، صرف د لمونځ کولو د پاره ئې ضروري جامې د ځان سره اوساتلې۔ يو کال هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم دغه شان تير کړو۔ بيا د سيدُ الطَّائِفه (يعنې د اولياؤ د سردار) حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خِدمت کښې حاضر شو نو هغوئي اوفرمائيل: اے شِبلي! کوم طهارت [يعنې پاکي] چې تاسو اختيار کړه، هغه ډيره ګټه وره ده۔ [2]

عَفْوْ و رَحمت کا بخشش کا سائِل
ہوں نہایت گنہگار و غافِل
میرا سب حال تجھ پر کھلا ہے
یاخدا! تجھ سے میری دُعا ہے
ہوں بظاہِر بڑا نیک صورت
کر بھی دے مجھ کو اب نیک سِیرت
ظاہِر اچھا ہے باطِن بُرا ہے
یاخدا! تجھ سے میری دُعا ہے[3]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... وسائِل بخشش، صفحہ:98۔
[2]... کَشْفُ الْمَحْجُوب، صفحہ:426بتغیر قلیل۔
[3]... وسائِل بخشش، صفحہ:135۔

اے عاشقانِ رَسُول! تاسو اوکتل! زمونږه بزرګانِ دين، د الله پاک نيکانو بنده ګانو به څنګه څنګه د الله پاک د نزدې والي حاصلولو د پاره کوشش کولو، حضرت ابو بکر شِبلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د زړه نه د دُنيا د مينې د ويستو، د ځانله والي سره د الله پاک په عبادت کښې د مصروفه اوسيدو او زړه د الله پاک د مينې لائق جوړولو د پاره خپل ټول مال، ټول دولت، جائيداد، هر څه د الله پاک په لار کښې اولګول-

سچ ہے کہ انسان کو کچھ کھو کے مِلا کرتا ہے | آپ کو کھو کے تجھے پائے گا جُویا تیرا[1]

**وضاحت:** دا حقيقت دے چې د څه حاصلولو د پاره څه د لاس نه وتل وي، يا الله پاکه! ستا مينه وال به د خپل ځان ختمولو سره هم تا حاصل کړے شي-

## الله پاک زړه ته ګوري

چې مونږه هم غور اوکړو! زمونږه باطِني طهارت (يعنې د زړه پاکي) چرته ده؟ ❀ مونږه لامبو هم ❀ وينځو هم ❀ د ظاهري وجود ښکلي کولو د پاره ډير کوششونه کوؤ ❀ مونږ چې د خوب نه راپاڅو نو تر څو پورې چې مو خُله نه وي وينځلې، د کور نه بهر وَتَل نه خوښوؤ ❀ چې جامې مو خيرنې وي نو خلقو ته په مخامخ کيدلو کښې شرم راځي، نن زمونږه د معاشرې ډير ځلمي زرګونه روپۍ صِرف د ويښتو د سټائل په جوړولو لګوي، په دې فيشنونو باندې روپۍ هم لګي، وخت هم لګي خو خلق دا هر څه کوي، ولې؟ د پاره د دې چې زه ښه ښکاره شم او زما د ليدلو سره خلق زما تعريف اوکړي- خو افسوس! ❀ زړه خيرن دے ❀ په زړه باندې د ګناهونو تور والے پروت دے ❀ په زړه کښې غلط خيالونه دي ❀ بد ګمانۍ دي ❀ تڪبر، غرور دے ❀ په زړه کښې د حَسَد اور لمبې

---

[1]... ذوقِ نعت، صفحہ:21-

وهي، مونږ د دې لږ شان فِکر هم نه کوؤ حالانکه زړه د رَبِّ کريم د نظر ځائے دے- په حديث شريف کښې دي: اِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ اِلٰى اَجْسَادِكُمْ، وَلَا اِلٰى صُوَرِكُمْ، وَلٰكِنْ يَنْظُرُ اِلٰى قُلُوْبِكُمْ يعنې بے شکه الله پاک ستاسو وجودونو او شکلونو ته نه بلکه الله پاک خو ستاسو زړونو ته ګوري-[1]

امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دې حديثِ پاک نه معلومه شوه: چې زړه د رَبُّ العَالَمِين د نظر ځائے دے، حيرانتيا ده په هغه کَس باندې کوم چې د ظاهر د ښکلي کولو ترتيب جوړوي، خپل ظاهر وينځي، د خيري نه ئې پاکوي د پاره د دې چې خلق د ده څه ظاهري عيب اونه ويني خو د زړه د صفائيۍ ترتيب نه جوړوي کوم چې د رَبُّ العَالَمِين د نظر ځائے دے---!![2]

| | |
|---|---|
| پھُلاں دا تُوں عِطر بنا | عطراں دا فیر کڈھ دریا |
| دریا وِچ فیر رَج کے نہا | مچھلیاں وانگوں تاریاں لا |
| فیر وی تیری بو نئیں مُکنی | پہلے اپنی مَیں مُکا |

وضاحت: [که چرې] د ګلونو عطر جوړ کړئ، د عطرو دريابونه جاري کړئ، په درياب کښې د مهيانو [کبانو] په شان لامبو اووهئ، بيا به هم ستاسو د زړه دننه سخا بوئي ختم نه شي- اوّل خپل باطن صفا ستهرا کړئ-

## د الله پاک د نزدې والي حق دار څوک؟

سُلطانُ العارفين، شيخ سلطان باهُو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که چرې د لامبلو وينځلو سره رَبِّ

1...مسلم، کتاب البر والصلة، باب تحريم ظلم المسلم...الخ، صفحه:995، حديث:2564-
2...منهاج العابدين، صفحه:175- 176-

کريم ميلاؤيدلے نو مهيان [کبان] به رَبِّ کريم ته ډير نزدې وو، که چرې رَبِّ کريم د ښه ويښتو جوړولو په ذريعه ميلاؤيدلے نو د ګډو بيزو [چيلو] ويښته زيات وي، هغوئي به رَبِّ کريم ته ډيرې نزدې وې خو حقيقت دا دے چې رَبِّ کريم هغه چا ته ميلاؤيږي، د چا نيّت چې رښتينے او زړه پاک وي-[1] شيخُ الاِسلام حضرت بابا فريد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د الله پاک او د بنده ترمينځه حِجَاب (يعنې خَنډ يا پرده) صِرف د زړه د نا پاکئ ده، که چرې دا حِجَاب لرې شي (يعنې زړه پاک شي) نو بنده ته د الله پاک نزدې والے نصيب کيږي-[2]

پاک ہوویں تے پاک ملے، بِن پاکوں پاک نئیں مِلدا
سارے جِسم دے دھوون نالوں توں دھوے ٹکڑا دِل دا

**وضاحت:** الله پاک دے، پاکانو خلقو ته خپل نزدې والے ورکوي، د ظاهري پاکئ په نسبت د زړه پاکئ ته ډير پام کوئ! د پاره د دې چې ستاسو د الله پاک نزدې والے نصيب شي-

## زړه بادشاه دے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زړه زمونږ د ټولو نه قيمتي اندام دے، د عِلم، عَمَل، اَخلاقو، کردار، عقل او هوښيارتيا، عزّت او بزرګئ، د دې ټولو تعلق د زړه سره دے، د سائنس دانانو تر سنګ زمونږه بدن ته زمونږ دماغ حکم کوي، که مونږه ګوته لږه شان هم خوزول غواړو نو د دې د پاره دماغ ګوتې ته حکم کوي، نو بيا ګوته حرکت کوي، که چرې دماغ حکمونه ورکول پريږدي نو زمونږه ټول بدن به شَل شي هم دغه شان په روحاني لحاظ سره زمونږ د ټول بدن واک د زړه سره دے، زمونږ زړه چې مونږ ته کوم

1...ابياتِ باهو کامل، صفحه:187 خلاصةً
2...هشت بهشت، اسرارالاولياء، صفحه:30 بتغير قليل-

حکم کوي، مونږه هم هغه څه کوؤ، څنګه چې زمونږ د زړه حالت وي، هم هغه شان زمونږه عادتونه، اخلاق، کردار وي، چې زړه پاک پرقيدونکے وي نو مونږ نيکان جوړيږو، نيک اوسيږو، د زړه ښکلا ځلا زمونږ په اندامونو، زمونږ په عادتونو او کردار کښې ښکاري او خدائے دې نه کړي که چرې زمونږه زړه تور وي، په زړه باندې د ګناهونو خيرے پروت وي نو زمونږه اندامونه، زمونږ کردار، زمونږ عادتونه به هم متاثر کيږي- د الله پاک آخري نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَلَآ وَاِنَّ فِی الجَسَدِ مُضْغَةً: اِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الجَسَدُ كُلُّهُ، وَاِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الجَسَدُ كُلُّهُ، اَلَآ وَهِیَ القَلْبُ واورئ! بے شکه په بدن کښې د وينې يوه ټوټه ده، کله چې هغه ټيک شي، ټول بدن ټيک شي او کله چې هغه ټوټه خرابه شي نو ټول بدن خراب شي، واورئ! هغه د وينې ټوټه زړه دے-(1)

د دې حديثِ پاک په شرح کښې علمائے کرام فرمائي: د بنده ټول کارونه د هغه د زړه سره ترلي دي، ❀ که چرې زړه پاک صفا وي ❀ په ده کښې د الله پاک مينه وي ❀ د الله پاک د خوښو بنده ګانو مينه وي ❀ په زړه کښې د الله پاک ويره وي نو د بنده ټول کارونه ښه کيږي ❀ بنده د ګناهونو نه بچ کيږي بلکه په ګناه کښې د اخته کيدو د ويرې نه د شکمنوخيزونو نه هم بچ کيږي او ❀ که چرې زړه خراب شي، ❀ زړه د نفس په خواهشونو پسې روان شي، ❀ په ده کښې د الله پاک نه ويره پاتې نه شي نو د بنده ټول کارونه خراب شي او بنده د نفس د خواهشونو په جال کښې ګير شي او په ګناهونو کښې اخته شي، دې د پاره وئيلے شي: زړه د ټول بدن بادشاه دے او ټول اندامونه د ده لښکر دے، که چرې بادشاه نيک وي نو لښکر هم نيک جوړ شي او که

[1]... بخاری، کتاب الایمان، باب فضل من استبرا، صفحہ:84-85، حدیث:52۔

چرې بادشاه خراب شي نو ټول لښکر خراب شي-[1]

دِل ہائے گُناہوں سے بیزار نہیں ہوتا
مغلوب شہا! نفسِ بدکار نہیں ہوتا
گو لاکھ کروں کوشش اِصلاح نہیں ہوتی
پاکیزہ گُناہوں سے کِردار نہیں ہوتا
یہ سانس کی مالا اب بس ٹوٹنے والی ہے
دِل آہ! مگر اب بھی بیدار نہیں ہوتا[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت لقمانِ حکیم د حکمت نه ډکه خبره

حضرت لقمانِ حکیم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ډیر عقل مند او هوښیار، نیک، پرهیزګاره، کامِل ولي وو، په قرآنِ کریم کښې هم د هغوئي ذِکر راغلے دے بلکه د هغوئي د نوم پوره سورت "سورۂ لقمان" په قرآنِ کریم کښې دے- د حضرت لقمانِ حکیم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د ژوند مبارک څه موده په غلامۍ کښې تیره شوه، یو ځل د هغوئي دنیائي آقا هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ته اووئیل: چیلۍ [بیزه] ذبح کړه او د دې د ټولو نه بهترینې 2 حصې راوړه- هغوئي چیلۍ ذبح کړه او د هغې ژبه او زړه ئې راویستلو او اوئې وړل- یو څو ورځې پس آقا بیا اووئیل: چیلۍ ذبح کړه او د هغې د ټولو نه خرابې 2 حصې راوړه، لقمانِ حکیم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ بیا چیلۍ ذبح کړه او بیا ئې د هغې ژبه او زړه حاضر کړو، آقا د دې وجه اوپوښتله (اوئې وئیل وړومبے مې درته د بهترینو حصو راوړلو اووئیل، نو تاسو ژبه او زړه راوړلو، اوس مې درته د خرابو حصو راوړلو اووئیل، اوس تاسو ژبه او زړه راوړلو، د دې څه وجه

---

[1]...جامع العلوم والحکم، صفحہ: 83-84 بتغیر قلیل-

[2]...وسائلِ بخشش، صفحہ: 163 ملتقطًا-

ده؟) په دې باندې حضرت لقمان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ اوفرمائيل: که چرې ژبه او زړه صحيح وي نو دا ټول بهتر دي او که چرې دا خراب شو نو د دې نه زيات خراب بَل څيز نشته-[1]

| | |
|---|---|
| دِل ہی ڈبوئے، دِل ہی ترائے | دِل سا دوست نہ دِل سا دُشمن |

## د بد بختئ 4 نخښې

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** واقعي رښتيا خبره ده، که چرې زړه خراب شي نو انسان د هيڅ نه پاتې کيږي، د زړه خرابيدل، د زړه زنګ نيول، د زړه توريدل دا د دنيا د ټولو نه غټه سزا ده[2] ❁ د تِرمذي شريف په حديثِ پاک کښې دي، د الله پاک حبيب، د زړونو طبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِنَّ اَبْعَدَ النَّاسِ مِنَ اللهِ الْقَلْبُ الْقَاسِی يعنې په خلقو کښې سخت زړه والا د ټولو نه زيات د الله پاک نه لرې دے-[3] ❁ په يو حديث شريف کښې دي: 4 څيزونه د بد بختئ نه دي: (1): د سترګو جمود [يعنې اوښکې نه بهيدل، ژړا نه راتلل] (2): د زړه سختي (3): اوږده اُمّيدونه (4): د دُنيا لالچ-[4]

| | |
|---|---|
| قَلب سختی میں حد سے بڑھا ہے | بندہ طالِب ترے خوف کا ہے |
| اِلتجائے غمِ مصطفٰے ہے | یاخدا! تجھ سے میری دُعا ہے |
| حُبِّ دُنیا میں دل پھنس گیا ہے | نَفسِ بدکار حاوِی ہوا ہے |
| ہائے شیطاں بھی پیچھے پڑا ہے | یاخدا! تجھ سے میری دُعا ہے[5] |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب     صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1 ... تفسیرِ طبری، پارہ:21، سورۂ لقمان، زیرِ آیت:12، جلد:10، صفحہ:209۔
2 ... ذَمُّ قَسْوَةِ الْقَلْب لِابْنِ رجب، صفحہ:260
3 ... ترمذی، کتاب الزہد، باب ماجاء فی حفظ اللسان، صفحہ:573، حدیث:2411۔
4 ... مسندِ بزّار، جلد:13، صفحہ:88، حدیث:6442۔
5 ... وسائلِ بخشش، صفحہ:134۔

## د زړه اِصلاح له توجو ورکړئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ❁ زړه اصلي سرمايه ده ❁ دا اصلي ژوند دے ❁ زړه د الله پاک د نظر ځائے دے ❁ د زړه پاکي د کاميابئ ذريعه ده ❁ د دې په وجه د الله پاک معرفت [يعني پيژندګلو] نصيب کيږي، مونږ له پکار دي چې مونږ د زړه صفائيئ ته پوره پام اوکړو، زړه د ګناهونو د خيري نه بچ کړو، د باطِني ګناهونو نه زړه پاک کړو، د بغض او کينې، بد ګمانئ، د دُنيا د مينې، د مال د مينې، د غرور، تکبر، حَسَد وغيره داسې نا پاکئ نه زړه بچ اوساتو- الله پاک دې زمونږه د زړه پاکي نصيب کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

زِندگی زِندہ دِلی کا نام ہے | مردہ دِل کیا خاک جیا کرتے ہیں

## د زړه د سختئ يو څو وجې

اے عاشقانِ رَسُول! د زړه د سختيدو او د ده د خيري نيولو ډيرې وجې دي: مثلاً ❁ د فضول خبرو (يعني بے د ضرورت نه د خبرو کولو) سره زړه سختيږي- خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د الله پاک د ذِکر نه علاوه ډيرې خبرې مه کوئ! ځکه ډيرې خبرې کول زړه سختوي- [(1)] ❁ داسې د ډيرو خندلو سره زړه سختيږي، په حديث شريف کښې دي: اِنَّ كَثْرَةَ الضَّحَكِ تُمِيْتُ الْقَلْبَ بے شکه ډيره زياته خندا زړه مړ کوي [(2)] ❁ داسې د ډير خوراک، خاص طور د حرامو او د حلالو د پروا کولو نه بغير خوړل زړه مړ کوي ❁ او زړه ته د ټولو نه زيات نقصان رسوونکے څيز ګناه ده- که ګناه وړه

---

[1]...ترمذی، کتاب الزہد، باب ماجاء فی حفظ اللسان، صفحہ:573، حدیث:2411۔
[2]...ابنِ ماجہ، کتاب الزہد، باب الحزن و البکاء، صفحہ:681، صفحہ:4193۔

وي او که غېته په زړه باندې غلط اثر غورځوي، الله پاک په قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| كَلَّا بَلْ ٚ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۴﴾ (پاره:30، سورهٔ مُطَفِّفِين:14) | ترجَمهٔ کنزُ العرفان: (داسې) هيڅکله نه (ده) بلکه د دوئي ګړو عملونو د دوئي په زړونو باندې زنګ لګولے دے۔ |

| | |
|---|---|
| دِل کا اُجڑا چمن ہو پھر آباد | کوئی ایسی ہَوا چَلا یارَبّ! |
| نفس و شیطان ہو گئے غالِب | ان کے چُنگل سے تُو چُھڑا یارَبّ! |
| نِیم جاں کر دیا گُناہوں نے | مرضِ عصیاں سے دے شِفا یارَبّ! |
| واسطہ میرے پیر و مرشِد کا | مجھ کو تُو متقی بنا یارَبّ![1] |

## د زړه د زنګ لرې کولو 4 طريقې

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! که چرې زړه زنګ نيولے وي، زړه خيرن شوے وي نو د ده د عِلاج د پاره ✿ د فضول خبرو نه پرهيز اوکړئ! ✿ د ډيرو خنداګانو نه بچ شئ بلکه مُسکا کول سُنَّت عمل دے، مُسکې کيدل پکار دي، په ډَکه خُله د خندا ګانو برقاګانو نه بچ کيدل بهتر دي ✿ د ډير خوراک نه ځان بچ ساتئ او ✿ د تولو نه اهمه خبره چې ګناه پريږدئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! زړه به صفا شي۔

راځئ! د زړه نه د زنګ لرې کولو 4 طريقې اورو:

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:79-81 ملتقطاً۔

# (1): د الله ذِکر

د الله پاک د زيات ذِکر کولو سره د زړه زنګ لرې کيږي- په حديث شريف کښې دي، د الله پاک حبيب، د زړونو طبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بے شکه لکه څنګه چې اوسپنه زنګ نيسي، داسې زړونه هم زنګ نيسي- عرض اوکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د زړه د زنګ علاج څه دے؟ اوئې فرمائيل: مرګ ډير زيات يادول او د الله ډير ذِکر کول-[1]

کاش لب پر مِرے رہے جاری
ذِکر آٹھوں پَہَر ترا یارب!
چشمِ تَر اور قلبِ مُضطر دے
اپنی اُلفت کی مَے پلا یاربّ![2]

## په غافِل باندې شيطان مقرر کولے شي

الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ ﴿۳۶﴾<br>(پاره:25، سورهٔ زُخرف:36) | ترجَمهٔ کنزُ العرفان: او څوک چې د رحمان د ذِکر نه مخ واړوي نو مونږ په هغه باندې يو شيطان مقرر کړو نو هغه د هغه سره اوسيږي- |

د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د شيطان خَرتَم د انسان په زړه باندې دے، کله چې بنده د الله پاک ذِکر کوي نو هغه خَرتَم لرې کوي او کله چې

1...شُعَبُ الایمان، جلد:2، صفحہ:353، حدیث:2014۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:79۔

انسان د الله د ذِکرنه غافل کيږي نو شيطان د هغه زړه لمړئ جوړوي (يعنې وسوسې پکښې) اچوي دغه د خنّاس (يعنې د شيطان) وسوسې دي- (1)

## په سرونو باندې ئې تور کارغان ناست وو

نقل دي، يو مسلمان پيرے د حضرت امام ابو القاسِم قشيري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دوست وو، يوه ورځ دا دواړه په جُمات کښې ناست وو او خلق هم موجود وو، مسلمان پيري اووئيل: تاسو ته څه په نظر راځي؟ امام قشيري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: آؤ! دا خلق ناست دي، ماته ښکاري- پيري اووئيل: د دې نه علاوه درته څه په نظر نه راځي؟ اوئې فرمائيل- نه- اوس مسلمان پيري د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په سترګو باندې لاسونه کيښودل، بيا ئې لرې کړل او اوئې وئيل: اوس اوګورئ! امام ابو القاسِم قشيري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې خلقو ته اوکتل نو څه ګوري چې د خلقو په سرونو باندې تور کارغان ناست دي، د دې کارغانو وينښته اوږده اوږده دي او دې وينښتو د چا مخونه پټ کړي دي، د چا د سترګو پورې دي، د چا د تندي پورې دي- امام قشيري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې دا عجيبه نظاره اوليدله نو په حيرانتيا سره ئې پوښتنه اوکړه: دا څه معامله ده؟ د هغوئي دوست پيري دغه آيت تلاوت کړو:

وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ ﴿۳۶﴾

(پاره:25، سورۂ زُخرف:36)

ترجَمهٔ کنزُ العرفان: او څوک چې د رحمان د ذِکر نه مخ واړوي نو مونږ په هغه باندې يو شيطان مقرر کړو نو هغه د هغه سره اوسيږي-

---

1...مسندِ ابي يعلىٰ، جلد:3، صفحه:376، حديث:4301-

او اوئې وئيل: دا هغه شيطانان دي کوم چې په دوئي باندې مسلط کړے شوي دي- په دوئي کښې چې څوک غافِل وي، د هغوئي په سر باندې شيطان د کارغه په شکل کښې کښيني، کله چې هغه ذِکر شروع کړي نو شيطان لرې اوتختي- (1)

ذِکرودرود ہر گھڑی وردِ زباں رہے | میری فُضول گوئی کی عادت نکال دو(2)

## د الله د ذِکر کولو قرآني حکم

اَللّٰہُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! غفلت په ګناهونو کښې د اخته کيدو او د زړه د زنګ نيولو اهمه وجه ده، څوک چې غافِل شي، شيطان د هغه په زړه باندې راخور شي او بيا په آسانئ سره ئې د ګناهونو کندې ته اوغورځوي، ځکه چې څومره کيدے شي، د الله پاک د زيات ذِکر کولو عادت جوړول پکار دي- الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ﴿۴۱﴾<br>(پاره:22، سورۂ اَحزاب:41) | ترجَمۂ کنزُ العرفان: اے د ايمان والوؤ الله ډير زيات يادوئ- |

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د الله ذِکر دومره ډير کوئ چې خلق تاسو ته ليوني اووائي- (3)

1...سبع سنابل، صفحہ: 253بتغیر قلیل-
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:305-
3...مسندِ امام احمد، جلد:5، صفحہ:189، حدیث:11971-

## ژبه د الله په ذِکر سره لمده ساته---!!

يو ځل د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې يو صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حاضر شو او عرض ئې اوکړو: اِنَّ شَرَائِعَ الْاِسْلَامِ قَدْ كَثُرَتْ عَلَيَّ يعنې يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! بے شکه د اسلام حکمونه په ما باندې زيات شوي دي، څه داسې عمل راته ارشاد اوفرمائيئ! کوم چې زه کلک اونيسم- د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِّنْ ذِكْرِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ يعنې ستا ژبه دې هميشه د الله پاک په ذِکر باندې لمده وي- [(1)]

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شرح کښې فرمائي: غالباً د پوښتنې کوونکي صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پوښتنه د نفلونو په باره کښې وه (چې يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! نفل عبادتونه ډېر زيات دي، په دې کښې يو عبادت اوښائيئ کوم چې زه کلک اونيسم [يعنې پوره عمل پرې اوکړم])، په دې باندې خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا جواب ورکړو، مقصد دا دے چې هر وخت په ژبه باندې د الله پاک څه ذِکر جاري وي- الله پاک دې داسې ژوند نصيب کړي- [(2)]

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## پيشو رښتيا اووئيل

شيخ ابو الحسن نُوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د الله پاک ډېر نيک بنده او کامِل ولي وو، تر لرې لرې پورې د هغوئي د وِلايت غږ خور وو، خلق به د برکت د پاره د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خِدمت

---

1...ابن ماجه، کتاب الادب، باب فضل الذکر، صفحه:608، حديث:3793-

2...مرآة المناجيح، جلد:3، صفحه:321 ملتقطا-

کښې حاضرېدل او فيض به ئې موندلو- يو ځل 2 درويشان د هغوئي د ملاقات د پاره را اووتل، په هغوئي کښې يو درويش د ځناورو په ژبه پوهيدلو، کله چې دا دواړه د شيخ ابو الحسن نُوري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ښار ته را اورسيدل نو اوئې ليدل: چې 2 پيشوګانې په خپل مينځ کښې خبرې کوي- درويش د پيشوګانو خبرې واوريدلې او غمژن شو او اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيۡهِ رَاجِعُوۡن ئې اولوستلو- بَل درويش چې د هغوئي نه د معاملې پوښتنه اوکړه نو اوئې وئيل: يوې پيشو بَلې پيشو ته وئيل: چې شيخ ابو الحسن نُوري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه وفات شوے دے- دواړه ډير خفه شول، خيرا! د دومره لرې نه راغلي وو، سوچ ئې اوکړو چې اوس به په جنازه کښې شرکت اوکړو، نو هم دغسې دا دواړه د شيخ ابو الحسن نُوري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه کور ته اورسيدل- څه ګوري چې شيخ ابو الحسن نُوري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه پخپله د دوئي د هر کلي د پاره تشريف راوړي، دواړه ډير حيران شول چې څه قيصه ده؟ پيشوګانو د دوئي د وفات کيدو خبر راکړے وو، دوئي خو ژوندي سلامت دي- شيخ ابو الحسن نُوري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه چې دوئي حيران اوليدل نو پوښتنه ئې اوکړه: څه خبره ده؟ تاسو ولې حيران ئيئ؟ درويش د پيشوګانو د خبرو په باره کښې اووئيل- شيخ ابو الحسن رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: پيشوګانو رښتيا اووئيل- زه د لږ وخت د پاره د الله پاک د ذِکر نه غافِله شوے ووم، بس هغه وخت په زمکه او آسمان کښې اعلان اوکړے شو چې ابو الحسن وفات شو، د پيريانو او انسانانو نه علاوه ټولو مخلوقاتو دا آواز واوريدو- بيا ئې اوفرمائيل: په ما باندې د غفلت [دا] حالت د لږ وخت د پاره وو، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ! زما بيا د ذِکر نعمت نصيب شو- (1)

---

1...مقاصد السالکين، صفحه:187-188 بتغير قليل-

اے عاشقانِ رَسُول! دا دے ذِکر او دا دے غفلت--!! ذِکر کوونکے په حقيقت کښې ژوندے دے ولې غافِل داسې دے لکه د مړي په شان-

مِرے دل سے دنیا کی چاہت مٹا کر | کر اُلفت میں اپنی فنا یاالٰہی!
عبادت میں گزرے مِری زندگانی | کرم ہو کرم یاخدا! یاالٰہی![1]

## د الله د ذِکر مختلف شکلونه

کاش! چې مونږ هره لحظه د الله پاک په ذِکر کولو کښې تيروونکې جوړ شو- د الله پاک د ذِکر ډير شکلونه دي ❀ مثلاً د قرآنِ کريم تلاوت کول هم ذِکر دے ❀ د الله پاک خوارۀ خوارۀ نومونه په خپله ژبه ادا کول ❀ الله الله وئيل ❀ د يَا رحمانُ، يَا رَحمانُ تسبيح کول ❀ يا غفّارُ، يا غفّارُ، يَا سَمِيعُ، يَا سَمِيعُ وئيل، دا ټول د الله پاک ذِکر دے ❀ داسې د الله پاک په نعمتونو کښې غور او فِکر کول هم ذِکر دے ❀ الله پاک دُنيا جوړه کړه، د دې دنيا عجائباتو ته کتل ❀ د دې په ذريعه د الله پاک د شان او عظمت او د قُدرت په باره کښې غور کول، دا د سترګو ذِکر دے ❀ د الله پاک ذِکر اوريدل دا د غوږونو ذِکر دے ❀ د زړه نه د الله پاک په ياد کښې مصروفه اوسيدل د زړه ذِکر دے ❀ د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت وئيل، اوريدل هم ذِکر دے ❀ د الله پاک د خوښو بنده ګانو خبرې کول ❀ د هغوئي ذِکرِ خير اوريدل ❀ د هغوئي سيرت لوستل دا هم ذِکر دے- حکيم الاُمَّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د الله ذِکر بالواسطه هم کيږي او بِلا واسطه هم، د الله پاک د ذات او صِفتونو تذکِره يا د دې سوچ کول بِلا واسطه د الله ذِکر دے، د هغه د محبوبانو د مينې خبرې کول بِالواسطه د الله ذِکر دے،

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:105-

اوګورئ! ټول قرآن د الله ذِکر دے خو په دې کښې خو چرته د الله ذات او صفتونه ذکر شوي دي، چرته د حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صفتونه او تعریفونه- [1] او د قرآنِ کریم تِلاوت بهترین ذِکر دے، معلومه شوه: دا ټولې خبرې په ذِکر کښې شاملې دي-

بهر حال! دا ټول د الله د ذِکر شکلونه دي، کوشش کول پکار دي چې مونږ هر وخت په څه نا څه قِسم په ذِکر او فِکر کښې مصروف یو-

## غلام بادشاه جوړوونکے عمل

مشهور صُوفي بزرګ حضرت مولانا روم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

| | |
|---|---|
| گَرْتُوْخَوَاهِی زِیْسْتَنْ بَا آبْرُوْ | ذِکْرِ اُوْ کُنْ ذِکْرِ اُوْ کُنْ ذِکْرِ اُوْ |
| هَرْگَدَا رَا ذِکْرِ اُوْ سُلْطَاں کُنَدْ | ذِکْرِ اُو بَس زَیْوَرِ اِیْمَاں بَوَد |
| هَرْکِهْ دِیْوَانَه بَوَدْ دَرْ ذِکْرِحَقْ | زِیْرِپَائِشْ عَرْشْ و کُرْسِی نُه طَبَق |

**مفهوم:** که د عزّت ژوند تیرول غواړې نو د الله ذِکر کوه! د الله ذِکر کوه! د الله ذِکر کوه! د الله ذِکر سوالګیرے بادشاه جوړوي، خلاصه دا ده چې د الله ذِکر د ایمان کالے دے، څوک چې د الله په ذِکر کښې دیوانه شي، عرش او کُرسي او ټولې طبقې د هغه د خپو لاندې وي-

الله پاک دې مونږ له د زیات ذِکر کولو توفیق را کړي-

اٰمِیْن بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

1...مرآۃ المناجیح، جلد:3، صفحه:304 ملتقطاً-

## (2): د قرآن تلاوت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د زړه د زنګ لرې کولو والا دويم نيک عمل دے: **د قرآنِ کريم تلاوت**- په قرآنِ کريم کښې د غور او فِکر کولو سره، په پوره توجو سره، د تِلاوت د ظاهري او باطِني آدابو د خيال ساتلو سره دې تلاوت اوکړے شي، تلاوت کوونکے دې د تلاوت کولو په وخت دا خيال راولي چې د قرآنِ کريم نُورانِيّت زما زړه ته ننوځي او زما د زړه زنګ لرې کوي، که چرې کوم کَس د دې ښکلو خيالونو سره، د تلاوت د آدابو خيال ساتي او قرآن کريم لولي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د هغه د زړه نه به زنګ ډير په تُندئ سره لرې کيږي-

الله پاک دې مونږ ته د زيات تِلاوت کولو توفيق راکړي- راځئ! د قرآنِ پاک د تلاوت فضيلتونه اورو:

## د قيامت په ورځ په تلاوت کوونکي باندې کرم

د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کوم بنده چې په ورځ او شپه کښې د قرآنِ کريم تلاوت کوي، د قرآنِ کريم حلال، حلال او حرام، حرام ګڼړي، الله پاک فرښتې د هغه ملګرې جوړوي- چې کله به د قيامت ورځ وي، قرآنِ کريم به د دې بنده د پاره د الله پاک په بارګاه کښې دليلونه ورکوي، قرآن به وائي: اے کريم رَبَّ! هر کَس به په دُنيا کښې د خپل کار اُجرت [مزدوري] اخستو خو فلانکي کَس به په ورځ او شپه کښې زما تلاوت کولو، زما حلال به ئې حلال او حرام به ئې حرام ګڼړل، يَا رَبَّ! نن ده له اجر ورکړه- د قرآنِ کريم په عرض باندې به دې بنده ته شاهي تاج او د

کرامت جامې واغوستلے شي- بيا به الله پاک قرآنِ کريم ته فرمائي: هَلْ رَضَيْتَ؟ (اے قرآنه!) آيا تهٔ رضا ئې؟ قرآنِ کريم به وائي: يَا رَبِّ! د دې نه ورله هم افضل اجر ورکړه- اوس به دې بنده له بادشاهي او جنّت ورکړے شي- بيا به قرآنِ کريم ته اووئيلے شي: هَلْ رَضَيْتَ؟ (اے قرآنه!) آيا اوس تهٔ رضا ئې؟ قرآنِ کريم به وائي: آؤ، يَا رَبِّ (اوس زه رضا يم)-[1]

تلاوت کا جذبہ عطا کر اِلٰہی! | معاف فرما میری خطا ہر اِلٰہی!

## د قرآن تِلاوت افضل ترين عبادت دے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! غور اوکړئ! د قرآنِ پاک د تلاوت څومره فضيلتونه دي- کاش! زمونږ هم د قرآنِ پاک د تلاوت شوق نصيب شي- زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَفْضَلُ عِبَادَةِ اُمَّتِیْ قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ قرآنِ کريم زما د اُمَّت افضل ترين عبادت دے-[2]

دے شوقِ تلاوت، دے ذوقِ عبادت | رہوں باوُضو میں سدا یااِلٰہی![3]

## د الله پاک نزدې والے ورکوونکې نيکي

حضرت فَروَه بِن نَوفَل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه د حضرت خَبَّاب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ګاؤنډي ووم، يوه ورځ زه د هغوئي سره د جُمات طرف ته اوتلم، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زما لاس اونيولو او اوئې فرمائيل: اے فَروَه! چې څومره درنه کيدے شي د الله پاک نزدې والے حاصل کړه! بيا

[1]...شُعَبُ الایمان، جلد:2، صفحہ:345، حدیث:1991۔
[2]...شُعَبُ الایمان، جلد:2، صفحہ:354، حدیث:2022۔
[3]...وسائلِ بخشش، صفحہ:102۔

ئې هم پخپله اوفرمائيل: د الله پاک د نزدې والي حاصلولو د ټولو نه خوښه طريقه د هغه کلام (يعنې قرآنِ مجيد) دے۔ [1]

الٰہی! خوب دیدے شوق قرآں کی تلاوت کا | شرف دے گنبدِ خضرا کے سائے میں شہادت کا

## قرآن د الله پاک مضبوطه رَسئ ده

د مسلمانانو د څلورم خليفه امير المؤمنين حضرت علي المرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم اوفرمائيل: ډيرې زر به فتنې وي۔ ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! د دې نه د بچ کيدو څه طريقه ده: اوئې فرمائيل: د الله پاک کتاب (يعنې قرآنِ کريم)۔ بيا ئې اوفرمائيل: ❁ په قرآنِ مجيد کښې ستاسو د راتلونکو مخکښينو خبرونه دي ❁ په قرآنِ کريم کښې ستاسو د خپل مينځ فيصلې دي ❁ کوم ظالم چې قرآنِ کريم پريږدي، الله پاک به هغه تباه کړي ❁ او څوک چې د قرآنِ کريم نه علاوه چرته په بَل يو ځائے کښې هدايت لټوي، الله پاک به هغه ګمراه کړي ❁ قرآنِ کريم د الله پاک مضبوطه رسئ ده ❁ قرآنِ کريم حکمت والا ذِکر دے ❁ قرآنِ کريم نيغه لاره ده ❁ د قرآنِ کريم په برکت سره خواهشونه ختميږي ❁ د قرآنِ کريم عجائبات نه ختميږي ❁ څوک چې د قرآنِ کريم مطابق خبره اوکړي، هغه رښتونے دے ❁ چا چې په قرآنِ کريم باندې عمل اوکړو، هغه به ثواب بيامومي ❁ څوک چې د قرآنِ کريم مطابق فيصلې کوي، هغه به انصاف کولو والا وي ❁ او څوک چې د قرآنِ کريم په لار رابلل کوي، هغه به خامخا د نيغې لارې طرف ته رابللو والا وي۔ [2]

ہر روز میں قرآن پڑھوں کاش! خدایا | اللہ! تلاوت میں مرے دِل کو لگادے

---

[1]... شُعَبُ الایمان، جلد:2، صفحہ:354، حدیث:2020۔
[2]... ترمذی، کتاب فضائل القرآن، باب: ماجاء فی فضل القرآن، صفحہ:675، حدیث:2906۔

اے عاشقانِ رَسُول! اوګورئ! قرآنِ کريم د الله پاک مضبوطه رسئ ده، څوک چې دا رسئ مضبوطه اونيسي، د قرآنِ کريم سره پوره طور تړون اوساتي، قرآنِ کريم د زړه او ځان نه خپل کړي، شپه او ورځ په ذوق او شوق سره تلاوت خپل معمول جوړ کړي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! قرآنِ کريم به د هغه کردار ښکلے کړي، د زړه زنګ به ئې لرې کړي، په دُنيا کښې، په قبر کښې، د حشر په ميدان کښې، په ميزان باندې، په پلِ صراط باندې په هر ځائے کښې به ئې حفاظت اوکړي او که چرې الله پاک اوغوښتل نو جنّت ته به ئې هم بوځي-

## حالّ مُرتَحِل څه ته وئيلے شي؟

کاش! چې زمونږه د تلاوت شوق نصيب شي- حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل يو کَس د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! افضل عمل کوم يو دے؟ اوئې فرمائيل: په تاسو باندې لازم دي چې حالّ مُرْتَحِلْ (يعنې منزل ته رسيدونکي او بيا سفر شروع کوونکي) جوړ شئ! هغوئي عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! حالّ مُرْتَحِلْ څه [څيز] دے؟ اوئې فرمائيل: هغه صاحبِ قرآن دے کوم چې قرآنِ کريم د سر نه لوستل شروع کړي او تر آخِره پورې اورسي، کله چې قرآنِ کريم مکمل کړي نو بيا ئې د سر نه شروع کړي، چې کله هغه هم خپل منزل ته اورسي، نو بيا سفر شروع کړي- (1)

الله پاک دې زمونږه هم د حالّ مُرْتَحِلْ جوړيدو (يعنې د بيا بيا قرآنِ کريم د مکمل کولو، يو ځل د مکمل لوستلو نه پس د بيا شروع کولو او هم داسې د ژوند تيرولو) توفيق نصيب کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1]... ترمذی، کتاب القراءت، صفحہ:684، حدیث:2948۔

## (3): د مرګ یاد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د زړه د زنګ لرې کولو والا دریم نیک عمل دے: **مرګ یادول**- آؤ جي! د مرګ یادولو سره هم د زړه زنګ لرې کیږي- امام اِبنِ ابي دُنیا رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَیْه لیکي: یو ځل یوه زنانه د حضرت عائشه صِدِّیقه، طیبه، طاهِره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا په خدمت کښې حاضره شوه او د زړه د سختئ شکایت ئې اوکړو- حضرت عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا اوفرمائیل: اَکْثِرِیْ ذِکْرَالْمَوْتِ یعنې مرګ ډیر یادوه!

یو څو ورځې پس هغه زنانه بیا واپس راغله او د حضرت عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا مننه ئې اوکړه (چې ما ستاسو په ښودلے شوې نُسخه باندې عمل اوکړو نو د اللّٰه پاک فضل اوشو، د مرګ یاد زنګ راوړو او د زړه سخت والے لرې شو)- [(1)]

معلومه شوه: چې د مرګ د یادولو سره د زړه زنګ په ډیرې تُندئ سره لرې کیږي، دې د پاره مونږ له پکار دي چې وخت په وخت مرګ یاد کړو-

## د مرګ د یاد سره د غفلت انجام

حضرت سعید بن جُبَیر، ربیع بن ابو راشِد او ډیر بزرګانِ دِین رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَیْهِم فرمائي: که چرې د یوې لحظې د پاره هم د مرګ یاد د زړونو نه لرې شي نو زړونه خرابیږي- [(2)]

---

[1]... موسوعة امام ابن ابي الدنیا، باب مایلیین ذکر الموت، جلد:5، صفحه:442، حدیث:156-
[2]... مجموع رسائل ابنِ رجب، ذم قسوة القلب، جلد:1، صفحه:265-

اَللّٰهُ اَکْبَر! د مرګ ياد چې د يوې لحظې د پاره د زړه نه لرې شي نو زړه خرابيږي، مونږ ته خو هډو مرګ ياديږي هم نه، که ياديږي راته هم نو کله نا کله هغه هم د يوې لحظې د پاره- آه! زمونږه د زړونو حال به څه وي---!!

لاؤں وہ اشک کہاں سے جو سیاہی دھودیں
عارضی آفتِ دُنیا سے تو ڈرتا ہے دِل
گندگی میں مرا دِل حد سے بڑھا جاتا ہے
ہائے بے خوف عذابوں سے ہوا جاتا ہے[1]

## هر څيز فاني دے

د صحابي اِبنِ صحابي حضرت عبد الله بن عمر رضی اللہ عنہ عادت مبارک وو، چې کله به هغوئي په خپل زړه کښې د نرمئ زياتے غوښتلو نو د وران شوؤ کورونو طرف ته به تللو، د هغه [کورونو] په دروازو باندې به اودريدلو وئيل به ئې: اَيْنَ اَهْلُكَ! يعنې اے وران کوره---!! په تا کښې اوسيدونکي چرته لاړل؟ بيا به ئې هم پخپله په جواب کښې فرمائيل: الله پاک به هميشه باقي وي، نور هر څيز فاني دے-[2]

جب اس بزم سے اٹھ گئے دوست اکثر
یہ ہر وَقْت پیشِ نَظَر جب ہے مَنْظَر
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
اور اٹھتے چلے جا رہے ہیں برابر
یہاں پر ترا دل بہلتا ہے کیوں کر
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

## عقل مند څوک---؟

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! کاش! چې مونږه مرګ يادولو والا جوړ شو، حضرت عبد الله بن عمر رضی اللہ عنہ فرمائي: يو ځل په بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړے شو: کوم

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:432۔
2... مجموع رسائل ابنِ رجب، ذم قسوۃ القلب، جلد:1، صفحہ:269۔

مومنان زيات عقل مند دي؟ خوږ آقا، د مدينې والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: مرګ زيات يادوونڪي او د مرګ نه پس [د ژوند] د پاره ښه تياريځ کوونڪي، دغه خلق ډير هوښياران دي-[1]

دِلا غافل نہ ہو یکدم، یہ دُنیا چھوڑ جانا ہے
بغیچے چھوڑ کر خالی، زمین اندر سمانا ہے
تُو اپنی موت کو مت بھول، کر سامان چلنے کا
زمیں کی خاک پر سونا ہے، اینٹوں کا سرہانا ہے
جہاں کے شغل میں شاغل، خدا کے ذکر سے غافل
کرے دعویٰ کہ یہ دنیا، مِرا دائم ٹھکانا ہے

الله پاک دې مونږه هم د مرګ زيات يادولو والا جوړ کړي- چې مرګ يادوؤ، بيا بيا د مرګ طرف ته پام ګرځوؤ نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د زړه زنګ به لرې شي او د آخرت فِکر به نصيب شي-

## (4): د صالحانو صحبت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د زړه د زنګ لرې کولو څلورمه او په عملي طور باندې د تړولو نه اثرناکه طريقه **نيک صحبت** [يعنې د نيکانو خلقو سره ناسته پاسته] ده- د الله پاک د نيکانو بنده ګانو سره د ناستې پاستې، د هغوئې د خبرو اوريدو، هغوئې ته په مينه د کتلو او د هغوئې د سيرت خپلولو په برکت سره دومره زر د زړه نه زنګ لرې کيږي چې هډو څه جواب ئې نشته-

## د زړه د سختئ نا اشنا علاج

حضرت جعفر بن سليمان رَحِمَهُ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما به چې کله چرته په خپل زړه کښې سختي

[1] ... ابنِ ماجہ، کتاب:الزہد، باب:ذکر الموت والاستعداد لہ، صفحہ:690، حدیث:4259۔

اوموندله نو سحر وختي به د حضرت محمد بن واسِع رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضريدم، د دې په برکت سره به ماته فائده رارسيدله-[1]

| | |
|---|---|
| اللہ اللہ کیے جانے سے اللہ نہ ملے | اللہ والے ہیں جو اللہ سے ملا دیتے ہیں |

## د يو نظرِ کرم خبره ده

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په **تفسيرِ نعيمي** کښې فرمائي: د ګناهونو سره زړه خيرنيږي (مثلاً يوه ګناه مو اوکړه نو په زړه باندې يو تور داغ جوړ شي، بله ګناه مو اوکړه نو بَل داغ جوړ شي، داسې په مزه مزه زړه زنګ نيسي) او خيرن زړه د عبادتونو په ذريعه په مزه مزه صفا کيږي خو د نيکانو بنده ګانو په دښمنئ سره په مزه مزه نه بلکه **يو دَم په زړه باندې مهر لګي** او که چرې د چا نيک بنده د نظر عنايت اوشي **نو خيرن زړه يو دم پاک پاک، ځليدونکے** شي-[2]

ځکه خو وئيلے شي:

| | |
|---|---|
| يَکْ زمانہ صحبتِ بااَوْليا | بہتر از صد سالہ طاعتِ بے ريا |

**وضاحت:** يعني د سوؤنو کالو د ريا نه بغير عبادت يو طرف ته، او د چا کامِل ولي د يو څو لحظو ناسته بَل طرف ته، دا د ولي سره ناسته چې څومره زر اثر کوي، عبادت دومره زر اثر نه کوي- (ياد ساتئ! د دې مطلب دا نه دے چې لمونځ، روژه پريږدئ او بس د نيکانو خلقو صحبت اختيار کړئ، د دې سره خو به اُلټا اثر اوشي، هسې هم د نيکانو خلقو صحبت لمونځ ګزاره بے لمانځه نه بلکه بے لمانځه لمونځ ګزاره جوړوي)-

---

[1]...حِلْيَةُ الْاَوْلِياء، جلد:2، صفحہ:395-
[2]... تَفْسيرِ نعيمى، پارہ:1، سورۂبقرہ، زيرِ آيت:7، جلد:1، صفحہ:158 خلاصةً-

# فتح محمد لمونځ ګزاره جوړ شو

میاں شیر محمد شرقپوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د پاکستان په مشهورو اولیائے کرامو کښې دے، یو ځل د هغوئي یو مرید د هغوئي په خدمت کښې عرض اوکړو: عالي جاه! زما یو ځوي دے: فتح محمد- ما هغه ډیر په شوق د قرآنِ پاک حافظ جوړ کړو خو هغه لمونځ نه کوي- میاں شیر محمد شرقپوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اوفرمائیل: هغه زما خوا له راوله- هم دغسې مُرید 2 ورځې پس خپل ځوي د ځان سره راوستو او حاضر شو او عرض ئې اوکړو: حُضُور! فتح محمد حاضر دے- میاں شیر محمد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په ډیره مینه پوښتنه اوکړه: فتح محمدا! لمونځ ولې نه کوې؟ عرض ئې اوکړو: په لمونځ کښې زما زړه نه لګي، که چرې جَمع ورکول وي نو زړه اولګوئ-

میاں شیر محمد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په چټائیئ ملاست وو، د فتح محمد خبره چې ئې واوریدله نو په جوش کښې کښیناستو او د شهادت په ګوته ئې د هغه د زړه طرف ته اشاره اوکړه او اوئې فرمائیل: لاړ شه! اوس به دې زړه لګي- بس د الله پاک د کامِل ولي هم دومره وئیل وو، اوس د فتح محمد دا حالت شو چې د ماسپخین لمونځ به ئې شروع کړو نو د مازیګر پورې به ئې د ماسپخین لمونځ پوره کړو، د ماسخوتن د لمونځ نیت چې به ئې اوتړلو نو سحر به پرې شو-[1]

طیبہ سے منگائی جاتی ہے، سینوں میں چھپائی جاتی ہے
توحید کی مے پیالے سے نہیں، نظروں سے پلائی جاتی ہے

[1]... مواعظِ نعیمیہ، صفحہ:316-317۔

الله پاک دې زمونږه د اوليائے کرامو سره مينه، د هغوئي د کرم د نظر طلب ګار اوسيدو او بس د نيک صحبت اختيارولو توفيق نصيب کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د زړه د سختئ 3 روحاني علاجونه

شيخ طريقت، امير اهلِسُنَّت حضرت علاّمه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خپل کتاب **مدني پنج سُوره** کښې ليکي: (1): کوم کَس چې د هر لمونځ نه پس 100 ځله يَا اللهُ لولي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د هغه باطن به فراخه وي (2): خوک چې هره ورځ د سحر د لمونځ نه پس په سينه باندې لاس کيږدي او 70 ځله يَا فَتَّاحُ لولي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د هغه د زړه زنګ او خيرے به لرې شي (3): او کوم کَس چې هره ورځ څه وخت هم په ورځ کښې يو ځل 7 ځله يَافَتَّاحُ لولي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د هغه زړه به روښانه شي۔ [1]

قَلب سختی میں حد سے بڑھا ہے  |  بندہ طالِب ترے خوف کا ہے
اِلتجائے غمِ مصطفٰے ہے  |  یاخدا تجھ سے میری دُعا ہے [2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: علاقائي دوره

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د زړه د زنګ لرې کولو، د ګناهونو نه د توبه کولو، او د نيک لمونځ ګزاره جوړيدو د پاره د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمن اونيسئ، په 12 ديني

---

[1] ...مدنی پنج سورہ، صفحہ:246-248۔
[2] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:134۔

کارونو کښې هم پوره برخه واخلئ، اِنْ شَآءَاللہُ الْکَرِیم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي- په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **علاقائي دوره** هم دے- راځئ! د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو!

## غير مسلمه مسلمان شو

د پاکستان د پنجاب صوبې د دعوتِ اسلامي د يو مبلغ بيان دے، يوه ورځ زمونږ ځائے ته د کراچئ نه مدني قافلې تشريف راوړو، د مدني قافلې والوؤ سره په شريکه زما هم په علاقائي دوره کښې د شرکت کولو شَرف نصيب شو، مونږه د يو دَرزي د دُکان نه بهر خلق راجمع کړل او د نيکئ دعوت مو ورکولو، کله چې بيان ختم شو نو د دغه دُکان يو ځلمي ملازم اووئيل: **زه غير مسلمه يم**- ستاسو د حضراتو د نيکئ دعوت زما په زړه ډير غټ اثر کړے دے، **مهرباني اوکړئ ما په اسلام کښې داخل کړئ**- بيا اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! **هغه کلمه اووئيله او مسلمان شو**-

مقبول جہاں بھر میں، ہو دعوتِ اسلامی | صدقہ تجھے اے رَبِّ غفّار! مدینے کا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب     صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د کفن دفن ايپلي کيشن

اے عاشقانِ رَسُول! اوسنے دور د ټيکنالوجئ دور دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د سمارټ فون (***Smartphone***) په ذريعه هم د عِلمِ دين عام کولو کوشش کوي- دې لړ کښې د دعوتِ اسلامي د آئي ټي ***I.T*** ډيپارټمنټ د طرف نه

مختلف موبائل ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي، په کومو کښې چې يو موبائل ايپلي کيشن دے: ***Muslim's Funeral*** (كَفَن دَفَن)- په دې موبائل ايپلي کيشن کښې د مَړي د غُسل او کفن دفن وغيره په باره کښې ډير اهم معلومات ورکړے شوي دي او يوه خاص خبره دا ده چې مَړي له به غُسل څنګه ورکوې، کَفَن به ورته څنګه اچوې، د دې د عملي طريقې د پاره ***Animated Videos*** [متحرک ويډيوګانې] هم شامِلې دي-




تاسو هم په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انستال کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! بيان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضيلت او د ژوند د ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِى فَقَدْ اَحَبَّنِى وَمَنْ اَحَبَّنِى كَانَ مَعِىَ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا!
جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

[1] ...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

# کمې خبرې کول د مصطفٰے سُنَّت دي

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک:** د انسان په خاموشۍ باندې قائم پاتې کيدل د 60 کاله عِبادت نه بهتر دي-[1]

**اے عاشقانِ رَسُول!** کمې خبرې کول د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! زمونږه آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوږدې خاموشۍ والا وو-[2] ❁ هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ضرورت نه بغير د خلقو سره خبرې نه فرمائيلې، د هند بن ابو هاله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بيان دے چې هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ضرورت نه بغير خبرې نه فرمائيلې بلکه اکثر به خاموشه پاتې کيدلو-[3] د خاموشۍ نه مُراد دے: د دنيا د خبرو نه خاموشي کَنې د حضورِ اَقدَس صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ژبه مُبارکه خو به د اللّٰه پاک په ذِکر کښې لمده اوسيدله-[4]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ❁ خاموشي حِکمَت دے ❁ د کمو خبرو سره عقل کامِل وي ❁ کمې خبرې کول د عِبادَت چابي ده ❁ د کمو خبرو سره د عبادت مزه نصيب کيږي ❁ د کمو خبرو سره عزت، وقار او عِلم زياتيږي ❁ خوک چې د ضرورت نه بغير د خبرو کولو نه ځان بچ کړي، هغه په شيطان باندې غالب اوسي-

اللّٰه پاک دې مونږ ته هم د کمو خبرو کولو، صِرف د ضرورت خبرو د خُلې نه د ويستلو او د فضول بق بق کولو نه د بچ کيدو توفيق را کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

یاربّ نہ ضرورت کے سوا کچھ کبھی بولوں | اللہ زباں کا ہو عطا قفلِ مدینہ

[1]... شُعَبُ الْاِيْمَان، باب: حفظ اللسان، جلد:4، صفحه:245، حديث:4953-
[2]... شرح السنه للبغوی، جلد:7، صفحه:450، حديث:3695-
[3]... شمائل ترمذی، صفحه:353، حديث:225-
[4]... مرآة المناجيح، جلد:8، صفحه:81-

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مكتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| آؤ مدنی قافلے میں ہم کریں مل کر سفر | سنّتیں سیکھیں گے اِس میں اِنْ شَآءَالله سر بَسَر |
| جو بھی شیدائی ہے مدنی قافِلوں کا یاخدا! | دو جہاں میں اُس کا بیڑا پار فرمایا خدا! |

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمۡ وَبَارِكۡ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِيِّ الۡاُمِّيِّ الۡحَبِيۡبِ الۡعَالِى الۡقَدۡرِ الۡعَظِيۡمِ الۡجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحۡبِهٖ وَسَلِّمۡ

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبۡر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبۡر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوۡلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمۡ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون،ص١٥١ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ

صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه

1... القول البديع،الباب الثانى، ص۲۷۷
2... افضل الصلوات على سيد السادات،الصلاة الثانية والخمسون،ص۱۴۹
3... القول البديع،الباب الاول،ص۱۲۵

ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾1﴿ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾2﴿ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترہيب،كتاب الذكر و الدعاء،٢/٣٢٩،حديث:٣٠
2... مجمع الزوائد،كتاب الادعية،باب فى كيفية الصلاة...الخ،١٠/٢٥٤،حديث:١٧٣٠٥
3... تاريخ ابن عساكر،١٩/١٥٥،حديث:٤٤١٥